# د افغـــانستان اســـلامي امــارت

## د ارشـــاد، حج او اوقـــافو وزارت

### د مساجدو د ارشاد او انسجام رياست

**د جمعې ورځې د خطابت موضوع او**

**ليکلی تقرير او بيان چې د هيواد دمرکز او ولاياتو**

**ټولو خطيبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې ليږل کيږي.**

---

**۱۹ / شعبان المعظم /۱٤٤٥هـ، ق موافق ۱۱ / حوت/۱۴۰۲هـ،ش**

# د اسلام له نظره د تجارت فضيلت او د مسلمان تاجر صفات

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله وحده، والصـلاة والسـلام على من لا نبي بعده؛ أما بعد:قال الله عزوجل في كتابه المجيد وفرقانه الحميد: (فَإِذَا قُضِيَتِ الصَّلَاةُ فَانْتَشِرُوا فِي الْأَرْضِ وَابْتَغُوا مِنْ فَضْلِ اللَّهِ وَاذْكُرُوا اللَّهَ كَثِيراً لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ)[الجمعة:۱۰].

د اسلام سپيڅلی دين مونږ او تاسو ته دکار او عمل لارښوونه کړې ده او له بيکارۍ او تنبلۍ څخه يې منع کړې ده.

الله جل جلاله په قرآن کريم کې ځای پرځای خلک ديته هڅولي دي چې کله د عبادت څخه فارغ شــئ؛ نو کار وکړئ او دالله تعالی فضـل چې رزق او روزي ده ولټوئ؛ ځکه چې دنيا دار الاسباب ده او بنده بايد د اسبابو په کارولو سره روزي ولټوي او بيا توکل وکړي .الله تعالی فرمايلي دي: (هُوَ الَّذِي جَعَلَ لَكُمُ الْأَرْضَ ذَلُولاً فَامْشُـوا فِي مَنَاكِبِهَا وَكُلُوا مِنْ رِزْقِهِ وَإِلَيْهِ النُّشُورُ)[الملك:۱۵]

ترجمه:- دی همغه ذات دی چې تا سو لپاره يې ځمکه تابع ګرځولې ده، نو تا سو د دې په اوږو (اطرافو، لارو) کې ګرځئ او د دغه (الله) له رزق نه خورئ او خاص ده ته (ستاسو) بيا ژوندي راپورته کېدل دي

په يو بل مبارک آيت کې الله تعالی فرمايلي دي: (فَإِذَا قُضِيَتِ الصَّلَاةُ فَانْتَشِرُوا فِي الْأَرْضِ وَابْتَغُوا مِنْ فَضْلِ اللَّهِ وَاذْكُرُوا اللَّهَ كَثِيراً لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ)[الجمعة:۱۰].

ترجمه:- نو کله چې لمونځ ادا کړی شي، نو تاسو په ځمکه کې خواره شئ او د الله له فضل څخه (څه) ولټوئ او تاسو الله ډېر زيات يادوئ، د دې لپاره چې تاسو کامياب شئ

امام بغوي رحمه الله ددې آيت په تفسير کې ليکي: (أَيْ: إِذَا فُرِغَ مِنَ الصَّلَاةِ فَانْتَشِرُوا فِي الْأَرْضِ لِلتِّجَارَةِ وَالتَّصَرُّفِ فِي حَوَائِجِكُمْ، وَابْتَغُوا مِنْ فَضْلِ اللَّهِ، يَعْنِي: الرِّزْقَ). تفسير البغوي) ۸ /۱۲۳) يعنې کله چې لمونځ خلاص شي نو خواره شئ په ځمکه کې د تجارت لپاره او په خپلو حاجتونو کې دتصرف لپاره او ولټوئ د الله تعالی فضل يعنې رزق.

او مسلمان لره ښايي چې د عبادت او تجارت ترمنځ انډول مراعت کړي ، دا سې نه چې ياخو شپه اوورځ په مسجد کې ناست وي او ذکر کوي او په کورکې يې عيال وږي وي او يا داچې په کار او تجارت پسې شپه او ورځ داسې ورک وي چې د الله تعالی عبادت او لمونځونه ورته هيڅ ياد نه وي بلکې لومړی دې دالله تعالی عبادت په ښـه شـان سره تر سره کړي او بيا دې له مســجد څخه ووځي او درزق په لټه کې دې شي لکه چې الله تعالی فرمايلي دي:(رِجَالٌ لا تُلْهِيهِمْ تِجَارَةٌ وَلا بَيْعٌ عَن ذِكْرِ اللَّهِ وَإِقَامِ الصَّلاةِ وَإِيتَاء الزَّكَاةِ يَخَافُونَ يَوْمًا تَتَقَلَّبُ فِيهِ الْقُلُوبُ وَالأَبْصَارُ)النور: (۳۷)

ترجمه:- (داسې) سړي چې د الله له ذکر او لمونځ قایمولو او د زکات اداکولو نه یې نه تجارت غافله کوي او نه اخیستل خرڅول، دوی له هغې ورځې نه وېرېږي چې په هغې کې به زړونه او سترګې اوړي راوړي

تجارت د نورو کسبونو په نسبت غوره او بابرکته کسب دی چې د علماوو داقوالو څخه دا یو قول دی؛ ځکه دتجارت په اړه بې شمیره آحادیث او اثار راغلي دي او رسول الله صلی الله علیه وسلم د خدیجة الکبری رضی الله عنها دتجارت په موخه شام ته تللی دی او تجارت د بې شمیره جلیل القدرو صحابه کرامو پیشه وه او ددین د بزرګانو پیشه وه. امام اعظم ابوحنیفه رحمة الله علیه تاجر ؤ،عبدالله بن المبارک تاجر ؤ.

په قرآن کریم کې د تجارت او (بیع) دواړه ذکر زیات راغلی دی.الله تعالی فرمایلي دي:(وَأَحَلَّ اللَّهُ الْبَيْعَ وَحَرَّمَ الرِّبَا فَمَنْ جَاءَهُ مَوْعِظَةٌ مِنْ رَبِّهِ فَانْتَهَى فَلَهُ مَا سَلَفَ وَأَمْرُهُ إِلَى اللَّهِ وَمَنْ عَادَ فَأُولَئِكَ أَصْحَابُ النَّارِ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ). البقرة: ۲۷۵

ترجمه:- حال دا چې الله اخیستل خرڅول (بیع) حلال کړي دي او سود یې حرام کړی دی، پس چا ته چې د خپل رب له جانبه نصیحت راغی، نو دی (فوراً ) منع شو، نو د ده لپاره هغه څه (معاف) دي چې مخکې تېر شوي دي او د ده معامله الله ته حواله ده، او کوم کس چې (سود ته) بېرته راوګرځي، نو دغه کسان د اور والا دي، دوی به په هغه کې همېشه وي

الله تعالی د درې قسمه کسانو ذکر کړی دی او دوی یې د قیام اللیل څخه معذور ګرځولي دي، چې یو مریضان دي بل تاجران او بل دالله په لار کې جهاد کوونکي.

(عَلِمَ أَنْ سَيَكُونُ مِنْكُمْ مَرْضَى وَآخَرُونَ يَضْرِبُونَ فِي الْأَرْضِ يَبْتَغُونَ مِنْ فَضْلِ اللَّهِ وَآخَرُونَ يُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ).المزمل: ۲۰

ترجمه: - دی په دې پوه دی چې یقیناً شان دا دی چې په تا سو کې به مریضان وي او نور به په ځمکه کې سفر کوي، چې د الله فضل به لټوي او نور به د الله په لاره کې جنګ کوي

حافظ ابن کثیر لیکي: (مسافرون في الأرض یبتغون من فضل الله في المکاسب والمتاجر). تفسیر ابن کثیر (٤ /٥٢٩)

مسافر په ځمکه کې چې لټوي دالله تعالی فضل او مهرباني په کسبونو او تجارتخانو کې.

(يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَأْكُلُوا أَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ إِلَّا أَنْ تَكُونَ تِجَارَةً عَنْ تَرَاضٍ مِنْكُمْ وَلَا تَقْتُلُوا أَنْفُسَكُمْ إِنَّ اللَّهَ كَانَ بِكُمْ رَحِيمًا). النساء: ۲۹

ترجمه:- ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! تاسو په خپل مینځ کې د یو بل مالونه په باطله (ناحقه طریقې) سره مه خورئ مګر داچې تجارت وي، چې ستاسو په خپل مینځي رضامندۍ سره وي او تاسو خپل ځانونه مه وژنئ، بېشکه الله پر تاسو باندې بې حده مهربان دی

رسول الله صلي الله علیه وسلم تجارت غوره کسب بللی دی او فرمایلي یې دي: (عَنْ جُمَيْعِ بْنِ عُمَيْرٍ عَنْ خَالِهِ قَالَ سُئِلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ أَفْضَلِ الْكَسْبِ فَقَالَ بَيْعٌ مَبْرُورٌ وَعَمَلُ الرَّجُلِ بِيَدِهِ). مسند أحمد (٢٥ /١٥٧)

ترجمه:- جميع بن عمير د خپل ماما څخه روايت کوي هغه وايې چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه پوښتنه و شوه د افضله کسب په باره کې.نبي عليه السلام وفرمايل:افضله کسب هغه بيع ده چې خالي وي د دوکې او خيانت څخه او کار کول دي دسړي په خپلو لاسونو باندې .

په يو بل حديث شريف کې راځي:(عَنْ أَبِي سَعِيدٍ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ التَّاجِرُ الصَّدُوقُ الْأَمِينُ مَعَ النَّبِيِّينَ وَالصِّدِّيقِينَ وَالشُّهَدَاءِ).سنن الترمذی

ترجمه:- دابو سعيد خدري رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: ريښتونی او امين تاجر به (په قيامت کې) دنبيانو، صديقينو او شهيدانو سره وي.

د زبير بن عوام رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي:(لَأَنْ يَأْخُذَ أَحَدُكُمْ حَبْلَهُ فَيَأْتِيَ بِحُزْمَةِ الْحَطَبِ عَلَى ظَهْرِهِ فَيَبِيعَهَا فَيَكُفَّ اللَّهُ بِهَا وَجْهَهُ خَيْرٌ لَهُ مِنْ أَنْ يَسْأَلَ النَّاسَ أَعْطَوْهُ أَوْ مَنَعُوهُ). صحيح البخاري (۳/ ۵۲۱)

ترجمه:- داچې واخلي يو له ستاسې څخه پړی او راوړي(له غره څخه) ګيډی د لرګو په شا باندې او هغه خرڅ کړي او و ساتي الله تعالی په دې باندې دده مخ (له ذلت څخه) دادده لپاره غوره ده ددې نه چې له خلکو سوال وغواړي چې يابه يې ورکړي او يا به يې ورڅخه منع کړي.

په يو بل حديث شريف کې راځي:(عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ أَطْيَبَ مَا أَكَلْتُمْ مِنْ كَسْبِكُمْ). سنن الترمذي (۳ /۶۳۹)

ترجمه:- دحضرت عائشې رضي الله عنها څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: بيشکه ډير پاک هغه څه چې تاسو يې خورئ ستاسې د کسب (روزي ده).

د رسول الله صلی الله عليه وسلم صحابه کرامو مختلف شيانو تجارتونه کول ، هغوی په وچه او بحرونو کې تجارتونه کول.

(عَنْ عَائِشَةُ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا كَانَ أَصْحَابُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عُمَّالَ أَنْفُسِهِمْ). صحيح البخاري( ۵ /۲۴۱)
حضرت عائشه رضي الله عنها فرمايي د رسول الله صلی الله عليه وسلم اصحاب دخپلو ځانونو لپاره کارونه کول.انصار د باغونو او زراعتونو ښتنان ؤ، مهاجرين تاجران ؤ او د بازار کار وبار يي کولو او مشرانو صحابه کرامو تجارت کولو. ابوبکر صديق رضي الله عنه تجارت کولو، عثمان رضي الله عنه به تجارت کولو, عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه تجارت کولو.په يو روايت کې راځي: (عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ قَدِمَ عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ عَوْفٍ الْمَدِينَةَ فَآخَى النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَهُ وَبَيْنَ سَعْدِ بْنِ الرَّبِيعِ الْأَنْصَارِيِّ وَكَانَ سَعْدٌ ذَا غِنًى فَقَالَ لِعَبْدِ الرَّحْمَنِ أُقَاسِمُكَ مَالِي نِصْفَيْنِ وَأُزَوِّجُكَ قَالَ بَارَكَ اللَّهُ لَكَ فِي أَهْلِكَ وَمَالِكَ دُلُّونِي عَلَى السُّوقِ فَمَا رَجَعَ حَتَّى اسْتَفْضَلَ أَقِطًا وَسَمْنًا).صحيح البخاري( ۵ /۲۰۶)

ترجمه:- دحضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دی هغه وايې چې کله عبدالرحمن بن عوف مدينې منورې ته راغی، نو نبي عليه السلام دده او د سعد بن الربيع ترمنځ وروروولي وتړله او سعد رضي الله عنه غني شخص ؤ. عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه ته يې وويل: خپل مال به درسره په منځ نيم کړم او ښځه به هم درته وکړم .عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه ورته وويل: الله تعالی دې درته برکت واچوي ستا په اهل کې او ستا په مال کې ؛ مګر ماته بازار وښايه.بيا عبدالرحمن بن عوف را ونه ګرځيد تر دې پورې چې وه ګټل پنير او غوړي.

کله چې مونږ ځانونه د صحابه کرامو دوستان بولو بايد دهغوی په نقش وقدم باندې لاړشو.

قال أبو قلابة البصري لرجل: لأن أراك تطلب معاشك أحب إلي من أن أراك في زاوية المسجد). إحياء علوم الدين (٢ /٦٣)

ابوقلابه رحمه الله يوسړي ته وويل: داچې تا ووينم چې خپل رزق لټوي، دا ماته ددېنه ډيره غوره ده چې تا د مسجد په کونج کې ووينم.

(وقال أبو سليمان الداراني ليس العبادة عندنا أن تصف قدميك وغيرك يقوت لك ولكن ابدأ برغيفيك فأحرزهما ثم تعبد)·
إحياء علوم الدين (٢ /٦٣)

وقال معاذ بن جبل رضي الله عنه ينادي مناد يوم القيامة أين بغضاء الله في أرضه فيقوم سؤال المساجد). إحياء علوم الدين (٢ /٦٣) حضرت معاذ بن جبل رضي الله عنه وويل: په ورځ د قيامت کې به يو آواز کوونکی آواز وکړي چې چيرته دي په ځمکه کې الله تعالی ته مبغوض خلک؟ نو پابه ځيږي په مسجد کې سوال کوونکي.

بيا امام غزالي رحمه الله فرمايي: (فهذه مذمة الشرع للسؤال والاتكال على كفاية الأغيار ومن ليس له مال موروث فلا ينجيه من ذلك إلا الكسب والتجارة) دا مذمت د شريعت دی په حق د سوال کولو کې او تکيه کول د بل چا په کفايت باندې ، نو پس د چاچې مورثي مال نه وي ، ددې نه ورته نجات نشي ورکولای مګر کسب او تجارت.

وَقَالَ إبْرَاهِيمُ النَّخَعِيُّ - رَحِمَهُ اللَّهُ - وَسُئِلَ عَنْ الرَّجُلِ يَتْرُكُ التِّجَارَةَ وَيُقْبِلُ عَلَى الصَّلَاةِ يَعْنِي وَرَجُلٌ يَشْتَغِلُ بِالتِّجَارَةِ أَيُّهُمَا أَفْضَلُ قَالَ التَّاجِرُ الْأَمِينُ. الآداب الشرعية والمنح المرعية(٣ /٢٦٩)

ترجمه:- او امام نخعي رحمه الله وويل او د هغه نه د هغه سړي په باره کې پو ښتنه و شوه چې تجارت پريږدي او لمانځه ته(نفلي) مخه کړي يعنې يو سړی په تجارت مشغول ؤ په دوی کې کوم يو غوره دی ؟ ابراهيم نخعي رحمه الله وويل: تاجر امين غوره دی.

## د مسلمان تاجر صفات:

نن صبا په هر مسلمان کې خصوصا د معاملاتو په برخه کې کمزوري تر سترګو کيږي چې تاجر هم ددې مصيبت څخه خالي نه دی. که چيرې مسلمان تاجر په هغه طريقه باندې تجارت وکړي چې اسلامي شريعت يې حکم کوي نو تجارت چې ځان او خلکو ته خير رسول دي يو نوع عبادت دی .

**داسلام له نظره تاجر باید زیات صفات ولري چې ځینې یې په لاندې ډول دي:**

**۱- د هرڅه نه لومړی مسلمان تاجر باید نورو خلکو ته د خیر رسولو اراده ولري:**

مسلمان تاجر باید خپل نیت اصلاح کړي او داسې فکر وکړي لکه څرنګه چې ځان ته ګټه رسول غواړی بل مسلمان ته هم د ګټې رسولو په فکر کې شي او کوم شی چې د ځان لپاره بد ګڼې باید د مشتري لپاره یې هم بد وګڼي؛ لکه درواغ ، دوکه او فریب او چل. تاجر باید دهر هغه کار نه ځان وساتي چې خلکو ته په کې ضرر او نقصان رسیږي. الله جل جلاله فرمایلي دي:( وَيَا قَوْمِ أَوْفُوا الْمِكْيَالَ وَالْمِيزَانَ بِالْقِسْطِ وَلَا تَبْخَسُوا النَّاسَ أَشْيَاءَهُمْ وَلَا تَعْثَوْا فِي الْأَرْضِ مُفْسِدِينَ). [هود: ۸۵].

په حدیث شریف کې راځي:(عَنْ أَنَسٍ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يُؤْمِنُ أَحَدُكُمْ حَتَّى يُحِبَّ لِأَخِيهِ مَا يُحِبُّ لِنَفْسِهِ).صحيح البخاري (۱ /۱۷)

ترجمه:- د انس رضي الله عنه څخه روایت دی چې ر سول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلي دي: تر هغې یو د ستا سو کامل مؤمن کیدای نشي ترڅو خوښ وګڼي خپل ورور (مسلمان) لپاره هغه څه چې خوښ ګڼي د خپل ځان لپاره.

په دې برخه کې باید د پخوانو بزرګانو پیروي وکړي.

**د امام اعظم ابوحنیفه رحمه الله واقعه:**

امام اعظم ابوحنیفه رحمه الله که له یوې خوا ددین لوی امام ؤ له بلی خوا مشـهور تاجر ؤ چې په تجارت کې یې په ریښتینولی شهرت درلود. یو ځل ورته یوې ښځې د ورېښمو جامې راوړلی چې ورباندې خرڅي کړي. امام ابوحنیفه رح ورڅخه پو ښتنه وکړه چې ددې قیمت څو دی؟ هغه ښځې وویل: سل درهمه . امام ابوحنیفه رح ورته وفرمایل چې ددې قیمت د سلو څخه زیات دی ، نو په څو یې خرڅوې؟ هغه ښځې ورته وویل: په دوه سوه . امام صاحب ورته وویل: ددې قیمت له دې هم زیات دی آن تردې چې خبره تر څلورو سوو ته ورسیده. امام صاحب ورته وویل ددې قیمت له دې هم پورته دی. هغه ښځې وویل: آیا ته پرما ټوکې کوې؟ بیا امام صاحب یو بل کس راوغوښتلو او هغې ورڅخه په پنځه سوه درهمه واخیسته.

**۲- په معامله کې ریښتینولي او صادق والی :** نن صبا د اکثرو تاجرانو څخه ریښتینولي ورکه شوی ده او خلک په خرڅولو کې زیات درواغ وایې او د جنس د خرڅولو پر وخت زیات قسمونه خوري او ډول ډول دوکې او فریبونه کوي.

د مسلمان تاجر صفت دادی چې باید اخیستلو او خرڅولو پروخت ریښتینولي او صدق خپل اصل وګرځوي او هیڅکله د خپل جنس د خرڅولو او یا اخیستلو پر وخت درواغ ونه وایې. په حدیث شریف کې د هغه تاجر صـفت بیان شـوی دی چې صادق او ریښتینی وي او امین وي.(عَنْ أَبِي سَعِيدٍ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ التَّاجِرُ الصَّدُوقُ الْأَمِينُ مَعَ النَّبِيِّينَ وَالصِّدِّيقِينَ وَالشُّهَدَاءِ). سنن الترمذی

ترجمه:- ابو سعيد خدري رضي الله عنه د ر سول الله صلی الله علیه و سلم څخه روایت نقل کوي چې نبي علیه السلام وفرمايل: تاجر زيات رېښتينی او امين به (د قيامت په ورځ) له نبيانو، صديقينو او شهيدانو سره وي.

په يو حديث شريف کې راځي:(عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ. أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- مَرَّ عَلَى صُبْرَةِ طَعَامٍ فَأَدْخَلَ يَدَهُ فِيهَا فَنَالَتْ أَصَابِعُهُ بَلَلاً فَقَالَ: مَا هَذَا يَا صَاحِبَ الطَّعَامِ؟. قَالَ أَصَابَتْهُ السَّمَاءُ يَا رَسُولَ اللَّهِ. قَالَ: أَفَلاَ جَعَلْتَهُ فَوْقَ الطَّعَامِ كَىْ يَرَاهُ النَّاسُ مَنْ غَشَّ فَلَيْسَ مِنِّى ). صحيح مسلم (١ /٦٩)

ترجمه:- د ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی هغه وايي يوه ورځ ر سول الله صلی الله علیه و سلم د طعام په ډيري باندې تيريده په هغه ډيرې کې يې لاس داخل کړو، نو ورسيدې ګوتې دده لوندوالي ته. نبي عليه السلام هغه سړي ته وويل: دا څه دي ای د طعام خاونده؟ هغه سړي وويل: باران پرې شوی ای دالله رسوله! نبي عليه السلام ورته وويل: نو بيادې دا (لوند طعام) دډيري په سر نه ايښودلو ترڅو خلک يي وويني، څوک چې دوکه کوي زما څخه نه دی.(زما امتي نه دی).

همدا راز د مسلمان تاجر صفت دادی چې د جنس دخرڅولو لپاره قسمونه ونه خوري ؛ځکه قسمونه خوړل د تجارت څخه برکت پورته کوي او الله تعالی د بې ځايه قسمونو خوړلو څخه منع فرمايلی ده.( وَلَا تَجْعَلُوا اللَّهَ عُرْضَةً لِأَيْمَانِكُمْ) [البقرة: ٢٢٤]

ترجمه:- او د خپلو قسمونو لپاره تاسو الله هدف مه ګرځوئ (د الله نوم مه استعمالوئ)

په حديث شريف کې راځي: (عن أَبِى هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ الْحَلِفُ مُنَفِّقَةٌ لِلسِّلْعَةِ مُمْحِقَةٌ لِلْبَرَكَةِ) صحيح البخاري (٥ /٢٦٨)

ترجمه:- د ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی هغه وايې ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اوريدلي دي چې وه فرمايل: قسم خوړل رواجوونکی د جنس دی او له منځ وړونکی د برکت دی.

په يو بل حديث شريف کې راځي: (عَنْ أَبِى ذَرٍّ عَنِ النَّبِىِّ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ: ثَلاَثَةٌ لاَ يُكَلِّمُهُمُ اللَّهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَلاَ يَنْظُرُ إِلَيْهِمْ وَلاَ يُزَكِّيهِمْ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ . قَالَ فَقَرَأَهَا رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه و سلم- ثَلاَثَ مِرَارٍ. قَالَ أَبُو ذَرٍّ خَابُوا وَخَسِرُوا مَنْ هُمْ يَا رَسُولَ اللَّهِ قَالَ : الْمُسْبِلُ وَالْمَنَّانُ وَالْمُنَفِّقُ سِلْعَتَهُ بِالْحَلِفِ الْكَاذِبِ). صحيح مسلم (١ /٧١)

ترجمه:- د ابو ذر رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل: دری کسان دي چې خبرې به ونه کړي ورسره الله تعالی د قيامت په ورځ او نه به ورته د رحمت په نظر وګوري او نه به يې پاک کړي او ددوی لپاره دردوونکی عذاب دی .ابوذر رضي الله عنه وويل چې بيا دا خبره نبي عليه السلام دری ځله تکرار کړه. ابوذر رضي الله عنه وفرمايل چې له خيره محروم شو او تاوانيان شو دوی څوک دي ای دالله رسوله!؟ نبي عليه السلام وفرمايل: يو د لباس اوږدوونکی کس د پښې د ګيټکۍ څخه زيات ( د تکبر له امله) او بل منت کوونکی شخص دی او بل رواجوونکی د خپلې سلعې(جنس) دی ددرواغو په قسم سره.

**۳- د وزن او پیمانې پوره ورکول:**

د مســلمان تاجر بل صــفت دادی چې په وزن او پیمانه کې به کمی نه کوي. الله تعالی د وزن او پیمانې کموونکو لپاره سخت وعید ذکر کړی دی او فرمایي:(وَيْلٌ لِلْمُطَفِّفِينَ * الَّذِينَ إِذَا اكْتَالُوا عَلَى النَّاسِ يَسْتَوْفُونَ * وَإِذَا كَالُوهُمْ أَوْ وَزَنُوهُمْ يُخْسِرُونَ * أَلَا يَظُنُّ أُولَئِكَ أَنَّهُمْ مَبْعُوثُونَ * لِيَوْمٍ عَظِيمٍ * يَوْمَ يَقُومُ النَّاسُ لِرَبِّ الْعَالَمِينَ). [المطففين: ١، ٦].

ترجمه:- (په تول او پېمانه کې) کمي کوونکو لره هلاکت دی هغه کسان چې دوی له خلقو نه ځان ته پېمانه اخلي (، نو) پوره (یې) اخلي او کله چې دغو (خلقو) ته پېمانه ورکوي، یا یې دوی ته تلي (،نو) کمی کوي په ډېره لویه ورځ کې (د حساب لپاره) هغه ورځ چې خلق به ”رب العلمین“ ته ودرېږي

متأسفانه چې په نن صبا بازارونو کې د وزن او پیمانې د کمښت شکایتونه شته دی.

(عبد الله بن عباس - رضي الله عنهما - أن رسولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - قال لأهل الكيل والميزان : إنَّكم قد وُلِّيتُم أمْرَين ، هَلَكَتْ فيهما الأمَمُ السَّالِفَةُ قبلكم). أخرجه الترمذي ، وقال : وقد رُوي بإسناد صحيح موقوفًا عليه.

ترجمه:- د عبدالله بن عباس رضي الله عنه څخه روایت دی چې رســول الله صــلی الله د پیمانې او وزن والا خلکو ته وویل: بیشکه تاسې دوه داسې کارونه کوی چې په هغې کې هلاک شوي دي پخواني قومونه له تاسو نه.

( كان ابن عمر يمر بالبائع فيقول : اتق الله و أوف الكيل و الوزن فإن المطففين يوقفون حتى أن العرق ليلجمهم إلى أنصاف آذانهم). الكبائر (ص: ٢٢٥)

ترجمه:- یوه ورځ عبدالله بن عمر په یو خرڅوونکي تیریده ورته یې وویل: دالله تعالی څخه وویرېږه! پوره ورکوه پیمانه او وزن؛ ځکه په پیمانه او وزن کې کمی کوونکي به درولی شي تر دې پورې چې خولې ددوی به رســیږي ددوی تر غوږونو ( چې بیا به خبری هم نشي کولی).

**۴- د اخیستلو او خرڅولو پر وخت آساني کول، او له خلکو سره مرسته او مهرباني کول:**

د مسلمان تاجر بل صـفت دادی چې د خرڅلاو پروخت باید له مشـتریانو او مراجعینو سره اسـاني وکړي او له مهربانۍ څخه کارواخلي .که چیرې مشــتري پیســې فی الحال ونلري ورته په نیټه جنس ورکړي او داخیســتونکي مجبوریت ته وګوري .

داسـې سـړي ته رسـول الله صـلی الله علیه وسـلم دعاء کړی ده . (عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ رَحِمَ اللَّهُ رَجُلًا سَمْحًا إِذَا بَاعَ وَإِذَا اشْتَرَى وَإِذَا اقْتَضَى). صحيح البخاري (٥ /٢٤٧)

ترجمه:- جابربن عبدالله رضي الله عنهما وایې چې رســول الله صــلی الله علیه وســلم فرمایلي دي: الله تعالی دې رحم وکړي په اساني کوونکي شخص باندې چې کله خرڅول کوي او چې اخیستل کوي او چې کله خپل حق غواړي.

دا هم د اسانۍ یو صورت دی چې مشتري اخیستل شوی بدلول غواړي تاجر یې باید ورته بدل کړي او ورته معامله فسخ کړي.

**واقعه:** په صحیح بخاري او صحیح مسلم کې یوه واقعه راغلی ده .ابوهریره رضي الله عنه وایي چې نبي علیه السلام وفرمایل: یو سړي د بل سړي څخه ځمکه واخیستله ، هغه کس چې ځمکه یې اخیستې وه په دغه ځمکه کې د سرو زرو کټوه وموندله، مشـتري د ځمکې مخکني مالک ته وویل واخله خپل سره زر دې ځکه ما له سـتا څخه یواځې ځمکه اخیستې ده او سره زر مې در څخه نه دي اخیستي. د ځمکې مخکني مالک وویل ما پر تا ځمکه او هغه څه چې په دې ځمکه دي ټول خرڅ کړي دي . دواړو دا فیصله یو بل سړي ته یوړه. هغه حکَم او دریم ګړي دوی ته وویل آیا ستا سو اولاد شـته ؟ یو وویل هو زما زوی شـته ، هغه بل وویل هو زما لور شـته. هغه دریم ګړي دوی ته وویل: د هلک او جینۍ ترمنځ نکاح وتړئ او په دې دواړو دا سره زر خرچه کړئ.

**۵- پر وعدو، او تړونو باندې وفاء کول:** په تجارت کی زیات وخت وعدې او تړونونه ترسره کیږي. دمسلمان تاجر صفت دادی چې ټولو هغو وعدو او تړونو او میاعدونو ته ژمن پاتې شي چې له خلکو سره یې کوي. دا هغه صـفت دی چې الله تعالی یې په اړه هرمسلمان ته امر کړی دی.(وَأَوْفُوا بِالْعَهْدِ أن الْعَهْدَ كان مَسْئُولاً ) [الإسراء:٣٤]
ترجمه:- او تاسو عهد پوره کوئ، بېشکه د عهد باره کې به پوښتنه کېږي
په یو بل مبارک أیت کې راځي: ( وَالَّذِينَ هُمْ لأَمَانَاتِهِمْ وَعَهْدِهِمْ رَاعُونَ). [المؤمنون:٨، المعارج: ٣٢]
ترجمه:- او هغه کسان چې دوی د خپلو امانتونو او خپلو وعدو لحاظ ساتونکي دي
الله تعالی ځکه په وعدو او عهدونو امر کړی دی چې وعده ماتول خیانت دی او مسلمان بالخصوص د خیانت څخه ځان وژغوري.
**واقعه:** په صحیح بخاري کې یوه واقعه ده، نبي علیه السلام فرمایلي دي چې په بني اسرائیلو یو سړي د بل سړي څخه زر دیناره قرض واخیستلې. دپیسو مالک قرض اخیستونکي ته وویل : شاهدان راوله چې پر تاپې شاهدان ونیسم.
هغه قرض اخیستونکي ورته وویل (کفی بالله شهیدا) کافي دی الله شاهد. بیا هغه ورته وویل ښـه نو کفیل او ضامن راوله.
قرض اخیستـونکي ورته وویل چې (کفی بالله کفیلا) کافي دی الله په حیث دکفیل او ضـامن. بالآخره د یوې معلومې نیټې لپاره یې ورته پیسې ورکړی. بیا قرضدار په بحر کې سفر وکړ او خپل حاجت یې پوره کړ او یود سپریدو وسیله یې ولټوله ترڅو هغه ټاکلې نیټې ته ځان د قرض مالک ته ورسـوي خو مرکب او سـپرلی ورته پیدا نشـوه نو یو لرګی یې راواخیسـته او د هغه منځ یې ډډ کړ او په هغه کې یې هغه قرض دینارونه واچول او هغه د قرض مالک ته یې یوه لیکلې ورقه یې هم ورسره کېښوده سر یې ور بند کړ او د بحر غاړې ته راغی او دا سې یې وویل: ای الله! ته پوهیږې چې ما د فلاني شخص څخه زر دیناره قرض اخیستې وه او زما څخه یې د کفیل غو ښتنه کړی وه ما ورته وویل چې د الله تعالی کفالت کفایت کوي او سـتا په کفالت راضي شـو او زما څخه یې شـاهدان وغوښـتل خو ما ورته وویل چې د الله تعالی شاهدي کفایت کوي ستا په شاهدۍ هم راضي شو او ما ډیر کوښښ وکړ چې یوه د سپریدو وسیله پیدا کړم ترڅو د هغه مال ور ورسـوم خو د سـپریدو وسـیله مې پیدا نکړه او زه دا تاته سـپارم او هغه لرګی یې په بحر کې واچولو تر دې پورې چې په بحر کې ډوب شو،
او بیا وګرځیده او د سپریدو د وسیلې په لټه کې شو ترڅو خپل ښار ته ځان ورسوي. هغه سړی چې قرض یې ورکړی ؤ د بحر غاړې ته ددې لپاره ووتلو چې کیدای شي چې د تجارت مال به یې راغلی وي، سـترګې یې په لرګي ولګیدې نو هغه لرګی یې ددې لپاره راواخیسـته چې کور کې ورڅخه په سـوخت کې اسـتفاده وکړي، کله چې یې لرګی مات کړ نو د لرګي په منځ کې مال او یو لیکلی خط وموندلو. بیا هغه قرضـدارې راغی او د قرض مالک ته یې زر دیناره ورکړل او ورته یې وویل چې ما ډیر کوښښ وکړ چې د سپریدو وسیله پیدا کړم ترڅو تاته ستا مال راوړم خو د سپریدو وسیله مې پیدا

نکړه.هغه د قرض مالک ورته وویل : آیا تا ماته څه شی رالیږلی ؤ؟ هغه ورته وویل: هو! هغه ورته وویل بیشکه الله تعالی ســتا څخه هغه زر دیناره اداء کړي دي او هغه زر دیناره چې یې قرضــدار ته وروســته ورکړی وی ، هغه یې واپس واخیستې. صحیح البخاري

**٦- په ګټه قناعت درلودل او له احتکار څخه ځان ساتل :**

د مسلمان تاجر بل صفت دادی چې هر څومره ګټه ورته الله تعالی ورکړي ، باید پر هغې قناعت وکړي او زیات حرص ونکړي او له احتکار څخه به ځان ساتي.

په بل روایت کې داسې راځي:(لَا يَحْتَكِرُ إِلَّا الْخَوَّانُونَ، أَيِ الْخَاطِئُونَ الْآثِمُونَ). مصنف عبد الرزاق

ترجمه:- د خیانت کوونکو څخه پرته بل هیڅوک احتکار ته لاس نه اچوي امام عبدالرزاق د[لخوانون] په معنا کې وایې خطاکاران او ګناهګاران.

همدا راز رسول الله-صلی الله علیه وسلم- فرمایي: ( مَنْ احْتَكَرَ طَعَامًا أَرْبَعِينَ لَيْلَةً فَقَدْ بَرِئَ مِنْ اللَّهِ تَعَالَى وَبَرِئَ اللَّهُ تَعَالَى مِنْهُ. مسند أحمد

ترجمه:- څوک چې دخوړو توکي څلويښت ورځې د بیې د لوړوالي په خاطر وساتي او زیرمه یې کړي؛ هغه د الله تعالی څخه بیزاري اعلان کړه یعنی د الله تعالی میثاق یې مات کړ او الله تعالی له ده څخه برائت وکړ.

په یو بل حدیث کې د احتکار په اړه داسې راغلي دي: (مَنْ احْتَكَرَ عَلَى الْمُسْلِمِينَ طَعَامًا ضَرَبَهُ اللَّهُ بِالْجُذَامِ وَالْإِفْلَاسِ) سنن ابن ماجه (٦/ ٣٧٧)

ترجمه:- څوک چې دمسلمانانو څخه خوراکي توکي زیرمه او بند یې کړي؛ الله تعالی به یې په جذام مرض او مفلس توب اخته کړي.

په یو روایت کې احتکار کوونکي ته ملعون ویل شوي دي: (الْمُحْتَكِرُ مَلْعُونٌ) المستدرك للحاكم

ترجمه:- احتکار کوونکی لعنتي دی.

په احیاء علوم الدین کې امام غزالي رحمه الله یوه واقعه ذکر کړی ده ، هغه وایې په سلفو کې یو کس په واسط کې یوه کشتۍ له غنمو ډکه کړه او بصری ته یې ولیږله او په بصره کې خپل وکیل ته یې ولیکل: دا طعام چې په کومه ورځ بصری ته در ورسیږي صبا ته یې مه ساته (او خرخ یې کړه) ، کله چې طعام راورسید تاجرانو هغه وکیل ته وویل که چېرې دجمعې ورځې ته یې وساتې نو څو چنده ګټه به په کې وکړی، نو هغه، هغه طعام د جمعې ورځې ته وروسته کړ او ډیره ګټه یې په کې وکړه او د طعام مالک ته یې دا واقعه ولیکله د طعام مالک واپس خپل وکیل ته ولیکل: ای بنده! مونږ غوښتل چې ثلث ګټه وکړو او دین مو هم سالم پاتې شي او تا زمونږ دامر څخه مخالفت کړی دی او پر مونږ دې لوی جنایت وکړ ، کله چې درته زما لیک در ورسیده ، نو ټول مال(ګټه) واخله او دبصرې په فقیرانو باندې یې وویشه ترڅو زه د احتکار څخه نجات ومومم.